محب سپین غر ۲۰۱۰/۷/۲۱

# پیـریـان او څــراغ

هیواد ته د وروستي سفر په ترڅ کې مې له هراته نیولې د کندهار، مزار، کندوز، خوست، ننگرهار، لغمان، پنجشیر، وردکو، کابل او دغه راز پښتونخوا خیبر له ځینو اوسیدونکو سره د اکاړې موقع درلوده. همداشان مې د پوهنتونونو له یو شمیر محصلانو، استادانو، شاعرانو، لیکوالانو، ژورنالیستانو، پوځیانو، ارگ میشتو، سیاسي څیړونکو، پارلمان له وکیلانو، پلورونکو او ټکسي چلوونکو سره هم د خبرو اترو ویاړ درلود.
سپینه باید ووایم چې د دغو کسانو له ډلې نه له یوه تن نه پرته بل هیچا هم له اوسني رژیم نه ملاتړ نه کاوه او نه یې د راتلونکې په باب ډاډ او خوشبیني لرله. د دغې بدبینۍ او نه ډاډ لاملونه په دې ډول کتاریدل:
- افغانستان له عقیده یي جگړې او بې عقیدې دفاع سره مخامخ دی.
- لویدیځ «متمدن» هیوادونه په افغانستان کې د فساد، جگړه مارۍ او دوه زړه توب کچې ته راټیټ شوي دي.
- ملکي وگړیو ته د بهرنیو ځواکونو شته والی نور د اهمیت له لیندیو (قوسونو) نه وتلی دی. د هغوی په وینا بهرنیان د افغان ولس په پرتله پر خپل ځان ډیر لگښت کوي او دا خبره نوره له شکه وتلې چې ناتو- امریکا افغانستان ته یوازې د خپلو گټو د ساتنې له پاره راغلي دي.
- بهرني ځواکونه او «نړیواله ټولنه» په افغانستان کې له یوه فاسد رژیم نه ملاتړ کوي، له داسې یوه رژیم نه چې د نه وړتیا، فساد، بې قانونۍ او ناوړه حکومت کونې ټول ریکارډونه یې مات کړي دي.
- که بهرني ځواکونه ووځي، نو اوسنی حکومت له ځمکنۍ بشپړتیا او ولس نه خو څه چې ان له خپلو څوکیو نه د دفاع وس هم نه لري. خلک اوس د دې ویرې او ډار برمته دي چې که بهرنیان لاړ شي، نو په هیواد کې ښایي بیا د تیرې پیړۍ د نوییمو کلونو پیښی راغبرگې شي.
- په خلکو کې له پوځي عملیاتو نه د ملاتړ او «د هیواد او سولې د دښمنانو د ځپل کیدو» له امله د خوشاله کیدو کچه د صفر په لور روانه ده.
- له ښاغلي کرزي نه د حاجی محمد محقق، امرالله صالح اوعبدالرشید دوستم خپگان او مخ اړونې خلک یو ځل بیا د شمالي ټلوالې د نوې کیدنې او د هغې د راتلونکي رول له امله اندیښمن کړي دي.
- جگړې اوس افغانانو ته دا ټکی ورزده کړې چې ټولې هگۍ باید په یوه ټوکرۍ کې کې نه ږدي. یوازې له یوه اړخ (دولت یا مخالفانو) سره دریدل خطرناک کار دی.
- د شمالي ټلوالې تر ولکې لاندې ولایتونو کې په تیرو څو کلونو کې امنیت تر ډیره ځایه ښه وو او پرمختیایي چارې ښې رواني وې. خو په وروستیو میاشتو کې هلته هم «له سویل سره تړلیو» جنگیالیو امنیت او د خلکو سوله بیز ژوند گډوډ کړی دی. ځینې کسان بیا بلک واټر او نورې امنیتي کمپنۍ د هیواد شمال ته د جگړې په ورلیږدولو تورنوي.
- په لسگونو نړیوال شرکتونه چې په افغانستان کې پر کار و بار بوخت دي او ښې گټې هم کوي د مالیې له ورکولو نه ښنل شوي دي. کارپوهان وایي چې که پر دغو شرکتونو مالیه ولگوله شي، نو د دولت بودیجې ته به په میلیونو ډالر عاید ورشیوه شي.
- د کابینې او نورو مهمو څوکیو په اړه د ښاغلي کرزي ډول ډول معاملو ته په پام سره گڼ شمیر څارونکي اوس نوموړي ته د حکومت تر نامه لاندې د یوې کمپنۍ د مشر په سترگه گوري، نه د ولسمشر!
- افغانستان لکه د تیرې پیړۍ د اتیایمې لسیزې په څیر یو ځل بیا د ډب او بن بست په حالت کې راښکیل دی. له دغه حالت نه د هیواد د ایستلو په اړه د ځواک څلورو مرکزونو ته گوته نیول کیږي:
- امریکا- ناتو (نړیواله ټولنه)
- افغان حکومت
- وسله وال مخالفان
- پارلمان (راتلونکی !)
سره له دې چې خلک له بهرنیانو نه ناهیلي شوي، خو بیا هم باور لري چې افغان حکومت د همدوی پر مرستو او سیرومو ژوندی دی. که چیرې امریکا- ناتو وغواړي چې د افغانستان په اوسني نظام کې د مثبت بدلون له لارې هیواد له اوسنۍ څپڅپاندۍ څخه وباسي، نو کولی شي پر دې کار بریالي شي. وایي: **پیریان د هغه چا امر مني چې څراغ یې په لاس کې وي.**
= خو ځینې څیړونکي بیا د افغانستان د لانجې د پرې کیدنې وخت څو لسیزې نور هم ځنډوي او ناتو – امریکا ته د لاندې چارو د ترسره کولو دنده ورسپاري: قبایلي جوړښت باید وځپي، د پاکستان سخت دریځه ډلې دې دړې وړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړي، د هند او پاکستان ترمنځ دې د کشمير لانجه هواره کړي او د افغانستان او پاکستان تر منځ دې هم ډاد رامنځته کړي!!! يوازې تر دې چارو وروسته کيدی شي په هيواد او سيمه کې سوله او امنيت رامنځته شي.
- ګڼ شمير هيوادوالو نور پر حکومت خپل باور له لاسه ورکړی او وايي چې دغه حکومت (کمپني لمتد) نه د مثبت بدلون نيت لري او نه هم د هيواد د ژغورنې وړتيا او وس.
- ولس د وسله والو مخالفانو د واکمنی خوند هم څکلی او له هغوی نه د ښه حکومت کونې تمه او ډاډ نه لري. د څارونکو په وينا وسله وال مخالفان د پاکستان تر اغيز لاندې دي او د پاکستان پر محور د افغانستان د جړې هواريدنه په هيواد کې روانه جګړه ښايي يوه نوې پړاو ته وغځوي.
- د ځواک څلورم مرکز (پارلمان) د هوسی په ښکر کې دی! خلک انديښنه لري چې رواني بې امنيتی ته په پام سره پارلماني ټاکنې ښايي يا هيڅ او يا هم پر ټاکل شوې او ځنډول شوې نيټې تر سره نه شي. دغه راز کيدی شي پارلمان ته بيا زورواکي او فساد پلوه کسان لار ومومي. خو که «بهرنيان» وغواړي د دې کار مخه ونيسي، رايه ورکوونکي خپلې رايې سمې وکاروي او مخالفانو ته هم په پارلماني ټاکنو کې د ګډون حق ورکړل شي، نو کيدی شي چې راتلونکی پارلمان د سولې په لار کې د يوه رغنده ځواک په توګه رامنځته شي. (خو په دې اړه هم د خو، ښايي، کيدای شي، که... او داسې نورو شرطونو او شکونو لړۍ خورا اوږده ده).
هو، دا يوازينی تته هيله وه چې ما د خپلو يو شمير هيوادوالو په جګړه ځپلو سترګو کې ليدله. خو که دا هيله هم پوچه راوخيژي، نو بيا خو دې پوښتنې ته ځواب په کار دی چې: آيا دا ننداره (د افغانستان لوبه) پر دومره شمعو ارزي؟
جرمني - ۲۰۱۰-۷-۲۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ